Your Service
Your Say



# موږ غواړو له تاسو واورو

ستاسو **فیډبک یا نظر** له موږ سره د خدمتونو په ښه کولو کې مرسته کوي. که کوم نظر، ستاینه یا شکایت لرئ **مهرباني وکړئ راته ووایئ.**

**د فیډبک پاڼه**

## موږ غواړو له تاسو واورو

موږ غواړو تاسو ته خوندي او د لوړ کيفيت خدمتونه وړانديږ کړو چې تاسو ته ټولو غوره پاملرنه او درملنه ترلاسه کړئ. موږ د دې لپاره کار کوو چې هره ورځ غوره روغتيايي خدمتونه جوړ کړو. موږ غواړو له تاسو څخه زموږ له خدمتونو د استفادې د تجربې په اړه واورو. موږ له دې زده کړه کولی شو او له دې سره وده کوو.

## خپل نظر ووايئ

تاسو نظر ورکولی شئ، ستاينه کولی شئ يا شکايت کولی شئ.

### موږ ته د خپلې جربې په اړه څنګه ووايئ

- له هغو کسانو سره چې ستاسو پاملرنه وړانديږ کويياله کوم کارکوونکي سره خبرې وکړئ.
- دلته موږ ته ايميل وکړئ **yoursay@hse.ie**
- له دغې پاڼې يا بروشر سره ضميمه شوی فورم ډک کړئ.
  - له هغو لارښوونو په استفادې چې درته وړاندې شوې، ايميل وکړئ يا فورم په HSE Your Service Your Say کې پوسټ کړئ.

  **يا**

  - دا ستاسو په محلي روغتيايي مرکز کېډ فيډبکونو په باکس کېکېږدئ.
  - کوم کارکوونکي ته يې ورکړئ.
  - د پوسټ کولو لپاره د کومې پټې پوښتنه وکړئ. تاسوهمدارز کولی شئکه غواړئ همغې پټې ته يو ليک واستوئ.
- دلته ورشئ **www.hse.ie/yoursay** په انلاينتوګهد تاسو خدمتونه ستاسو فيډبک (Your Service Your Sa Feedback) فورم ډک کړئ.
- کولی شئ HSE Your Service Your Say ته په وړيا توګه په دغې شمېره زنګ ووهئ **1800 424 555** د سهار له 9am د ماښام تر 5pm بجو پورې له دوشنبې تر جمعې(د بانک رخصتيو پرته). که له ايرلنډ بهر وئ، دغې شمېرې ته زنګ ووهئ 4555 642 1 353+.
- کولی شئ HSELive ته په دغې شمېره وړيا زنګ ووهئ **1800 700 700** د سهار له 8am د شپې تر 8pm له دوشنبې تر جمعې او د سهار له 9am د ماښام تر 5pm د شنبه په ورځو (د بانک له رخصتيو پرته). که له ايرلنډ بهر وئ، دغې شمېرې ته زنګ ووهئ 8787 240 1 353+.

### که مستقيماً نه شئ راته ويلی

که خپل نظر پخپله نه شئ راکولی، له داسې کس څخه غوښتنه کولی شئ چې باور پرې لرئ، لکه ستاسو خپولان، پالونکی يا وکيل چې ستاسو لپاره دا کار وکړي.

## بيا څه کېږي؟

**نظر يا ستاينه**
که کوم نظر يا ستاينه لرئ،موږ بهدا له اړوندو خدمتونو ياکارکوونکوسره شريک کړو.

**شفاهي شکايت**
که د يوې بدې تجربې په اړه شفاهي شکايت کوئ، کولی شئ خپلهاندېښنهله هغه چا سره چې تاسو تهپاملرنه وړانديږ کوييا بل کوم کاروونکي سره شريکه کړئ. دوی به هڅه وکړي چې له تاسو سره ژر مرسته وکړي اوکه ممکنه وهپه 48 ساعتونو کې.

**رسمي شکايت**
که کارکوونکی له تاسو سره مرسته نه شي کولی چې شفاهي شکايت مو په 48 ساعتونو کې حل کړئ يا تاسو غواړئ يو رسمي ليکلی شکايت وکړئ، د HSE د شکايتونو مامورڅخه به غوښتنه وشي چې ستاسو شکايت وګوري.

د HSE د شکايتونو مامور به له تاسو سره ستاسو د رسمي ليکليشکايتله تر لاسه کولو وروسته په 2 کاري ورځو کې اړيکه ونيسيچې له تاسو څخه نور معلومات واخليا د شکايت د حل هڅه وکړئ.

د HSE د شکايتونو مامور به ستاسو شکايت په 5 کاريورځو کې په رسميت وپېژني.

که کومو پوښتنو ګروېږنو ته اړتيا وي د HSE د شکايتونو مامور به هڅه وکړي چې پهستاسو شکايت تهپه 30 کاري ورځو کې ځواب ووايئ.

که دوی د څېړنيو يا ګروړنو لپاره ډېر وخت ته اړتيا ولري؛ د شکايتونو مامور به تاسو ته د 30 کار يورځو تر ختمېدو وړاندې خبر درکړي. د شکايتونو مامور به له هغه وروسته چې تاسو ته خبر درکړي، په هرو 20 کاري ورځو کې نوي معلومات درکوي.

Your Service
Your Say

که تاسو د شکایتونو مامورد څېړنو څخه راضي نه وئ چېستاسورسمي شکایت یې څېړلی؛ تاسو کولی شئ له HSE څخه وغواړئ چې **یوه داخلي بیاکتنه وکړي.**

که تاسو د هغې داخلي بیاکتنې له پایلوراضینه وئ چې HSE ترسره کړي، تاسو دلته په اړیکي نیولو سره کولی شئ د یوې خپلواکبېهرنۍ بیاکتنېغوښتنه وکړئ:

- د Ombudsman اداره (www.ombudsman.ie) **یا**
- د ماشومانو لپاره Ombudsman که چېرې ستاسو سن له 18 کالو څخه ټیټ وي (www.oco.ie)

زموږ د فیډبک پالیسۍ، Your Service Your Sayپه اړه نور معلومات دلته لوستی شئ **www.hse.ie/yoursay**

## له موږ سره اړیکه ونیسئ

**خبرې وکړئ** له هغه کس سره چې ستاسو پاملرنه وړاندې کوي یاله کومېلکارکوونکیسره

**ایمیل وکړئ** yoursay@hse.ie

له دغې پاڼې یا بروشر سره ضمیمه شوی فورم ډک کړئ

**دلته ورشئ www.hse.ie/yoursay چې په انلاین توګه د تاسو**

دمتونه ستاسو فیډبک (Your Service Your Sa Feedback) فورم ډک کړئ.

**کولی شئ HSE Your Service Your Say ته په وړیا توګه په دغې شمېره زنګ ووهئ 1800 424 555 د سهار له 9am د ماښام تر 5pm بجو پورې له دوشنبې تر جمعې (د بانک له رخصتیو پرته). که له ایرلنډ بهر یئ په 353+ 1 642 4555 شمېره زنګ ووهئ**

**کولی شئ HSELive ته په دغې شمېره وړیا زنګ ووهئ 1800 700 700 د سهار له 8am د شپې تر 8pm له دوشنبې تر جمعې او د سهار له 9am د ماښام تر 5pm د شنبه په ورځو (د بانک له رخصتیو پرته). که له ایرلنډ بهر یئ په 353+ 1 240 8787 شمېره زنګ ووهئ**

**د پوسټ پته:** HSE Your Service Your Say, Oak House, Limetree Avenue, Millennium Park, Naas, Co. Kildare, W91 KDC2

**نظر:**
موږ څنګه وده کولی شو؟

**ستاینه:**
څه موږ خوښ شول؟

**شکایت:**
خوشاله نه یئ؟
راته ووایئ!

د نورو ژبو لپاره سکن کړئ

Your Service Your Say

که د مورږ د خدمتونو د کومې برخې په اړه فیډبک ورکول غواړئ، مهرباني وکړئ دغهفورمډک کړئ او مورږ ته یې راواستوئ.

**په برېښنایي توګه ستاسو د فورم ډکول**

که غواړئ په فورم کې کوم بدلونونه ثبت کړئ، تاسو باید د Adobe Acrobat Reader وروستۍ نسخه وکاروئ

[په وړیا توګه Adobe Acrobat Reader ډونلوډ کړئ - adobe.com](https://adobe.com)

**د ایمیل له لارې فیډبک استول**

مورږ سپارښتنه درته کوو چې PDF فورم د لیپاپ یا ډیسک ټاپ وسیلې په کارولو بشپړ کړئ.

که څیرک مبایل یا ټبلیټ کاروئ، باید د PDF ایډیټ کولواپلیکیشن په خپله وسیله کېانستال کړئ.

1. فورم خپلې وسیلې ته را ډونلوډ کړئ.
2. فومر په PDF ایډیټ کوونکي کې خلاص کړئ.
3. فورم بشپړ او ثبت کړئ. که مبایل کاروئ، وګورئ چې په فورم کې ټول جزیات سم ثبت شوي.
4. فورم دغې پتې ته ایمیل کړئ yoursay@hse.ie

**د پوسټ له لارې فیډبک استول**

1. فومرم پرینټ او ډک کړئ (مهرباني وکړئ روښانه یا په لویو تورو یې ولیکئ).
2. دغې پتې ته یې واستوئ: HSE Your Service Your Say, Oak House, Limetree Avenue, Millenium Park, Naas, Co. Kildare, W91 KDC2

مهرباني وکړئ په نښه کړئ چې څه ډول فیډبک ورکوئ:

نظر ☐ ستاینه ☐ شکایت ☐

**د خدمت نوم:**

**د ځای نوم:**

(د بېلګېپه توګه، روغتیایي مرکز، ادار یدفتر، روغتون یا کلینیک یا وارډ)

**د هغې تجربې نېټه (نېټې) چې دغه فیډبک اړه ورپورې لري:**

د Your Service Your Say د فیډبک فورم

Your Service Your Say

مهرباني وکړئ د خپل فیډبک جزیات دلته وړاندې کړئ:

د Your Service Your Say فیډبک فورم

Your Service Your Say

| | |
|---|---|
| ستاسو نوم: | |
| پته: | |
| ایمیل: | |
| ټلیفون: | |
| مبایل: | |
| نېټه: | |

که ستاسو فیډبک شکایت وي، موږ شاید ستاسو شخصي معلوماتو ته اړتیا ولرو؛ خو یوازې چېرته چې اړتیا ده او یوازې د هو سوابقو لپاره چې ستاسو د شکایت په موضوعاتو پورې اړه لري.

که تاسو **نه غواړئ چې** له HSE سره شته شخصي معلومات مو د لاسرسي وړ شي:

**مهرباني وکړئ انتخاب کړئ:** ◯ **هو** ◯ **نه**

**یوازې د HSE د کارکوونکو د کارونې لپاره**

| | |
|---|---|
| د ترلاسه کېدو نېټه: | / / |
| د نظر / ستاینې / شکایت نمبر: | |
| ځای: | |
| د شکایتونو مامور: | |